**ليکونکی:** ستيفن لندمن (Stephen Landman).
**منبع اودخپريدو نيټه :** گلوبا ل ريسرچ «25-08-2019».
**ژباړونکی :** پوهند وی دوکتور سيد حسا م «مل».

---

# د « سی آی ای» افغا ن مليشی د سولي د بيا رغوني مخه نيسي

## CIA Afghan paramilitaries prevent restoration of peace



*پر ا فغا نستا ن باندي دامريکی د متحده اياﻻتو نظا می يرغل او اشغا ل بی له کوم پا يلی خپل (اتلس کلنی ) ته دوام ورکوی ، په دغه جنګ ځپلي هيواد کي دسولي اودثبات دبيا رغوني لړ ليد له خپل ممکه حده څخه زيا ت وهم اوډار دی يعنی د سولی اود ثبا ت راوستل په دی هيواد کي يواخي يو تصور او خيا ل دي.*

د **ترامپ** درژیم اود طا لب استازو ترمینځ خبری د تیرکال له جولای میا شتی راهیسی روانی دي.
ترهغه وخته پوری چی د «سی آی ای» تر کنترول لاندی ملیشی یا شبه نظا میا ن په دی هیواد کی شتون ولری نو په دي نژدی وخت کی ددوی خبری د بریا لیتوب سره پای ته رسید په اړه ادعا ګا نی بیوائی زړه خوښی او آرما نی هیلی دی اوبس.

د نړیوال اوعا مه چارو لپا ره د **براون پوهنتون واټسن انستیتوت** (Watson Institute = WI) پخپل یونوی مطالعه یا څیړنه کي دافغان نیمه ځواکونو یا افغاني شبه نظامیانو د (سی آی ای ) اردو ترکنترول لاندی د بشر حقونو لپاره ګواښ اوپه افغانستان کي دسولي په وړاندي خنډ بللی .

دغه نزاع یا جنګ د متحده ایالاتو د تروریزم په جګړه کي ښکیل یا د خیل دي اما نه دهغی په وړاندي اوداځکه چی د متحده ایالاتو دولتی تروریزم داوږدی مودی پا لیسی لری اوبیا په ځا نګړی بڼی سره وروسته د (۹/۱۱) له پیښی څخه کله چي د دی امپراتوری قهر او غضب پای ته رسید لي .

په افغانستان کی د(سی آی ای) تر کنترول لاندی شبه نظامیان یا ملیشی دامریکي دامپریالیزم دګټو دتامین اودترلاس کولوسا تند و اوچوپړیان دي اود دوی شتون په هیوادکي دسولی اود ثبا ت د بیا رغونی خنډ څه چی سوله اوثبا ت نه تر لاسه کیږي .

نوپه همدی ترتیب د ترهګری دځپلوسره د مقا بلی لپا ره په امریکی کی د متحده ایالاتو(استخبار اتی شتمنی ) په دی هیواد کي دتروریزم دستونزي سره دمقا بلی یو پلمه دی کوم چی امریکا پخپله دغه ستونزی (تروریزم ) مینځ ته راوړی اودهغه څخه ملاتړ کوي.

که چیری داسی وشی چي له افغانستان څخه دپنتاګون جنګی ځواکونه وویستل شی یا که ووځی نو دهغوی

وتل هيڅ کوم اهميت نه لری او هغه داچي ترهغه پوری چي په افغانستان کي د(سی آی ای) خصوصی پوځ شتون ولری دسولی راوستل ناممکه دی اودا با يد په ډاګه شي او هغه داچي له ا فغا نستا ن څخه دامريکي دځواکونو دوتلو احتمال هيڅ نشته او هيڅ نه ليدل کيږی يعنی چی امريکا يا ن له افغانستان څخه دوتلو نيت نه لری .

دامريکي د يرغل له پيل څخه وروسته په دی هيواد کي **د واټسن انستيوت** له قوله ، ا مريکا يا نو دبشر حقونه ترپښو لاندی کړي او بی شميره ملکی بی ګنا ه خلک وژلی دي يعنی چي غير قا نونی وژنی او شخړی ترسره کړی اولاپسی کويی .

د(سی آی ای) سپا نسرشپ (ملاتړ) ډاډ ورکوی چي ددوی عمليا ت په محرما نه بڼی سره کمه شوی ، سره دهغی کوم چي دهغو پر کړو او فعا ليتونو با ندی د هيڅ کوم يو مرجع له خوا نظا رت نه ترسره کيږي يعنی چي هغوی دخپل بدو کړونو له امله دکوم مرجع پوښتنو ته ځواب ګوی نه دی .

نن ورځ لانګلی ( لانګلی اغلباً به عنوان يک نام مستعار (سيا= سی آی ای) يا بعنوان دفتر مرکزی آنلاين مرکز اطلاعاتی جرج بوش استفاده ميشود ....تفسير توسط اين قلم ) مليشی دهغه افغا نی جنګيا لی مجاهيد ينو سره معا د ل يا برابر دی کوم چی هغوی د امريکی له خوا د (1980 ) لسيزو کی د شوروی نواکګرو پرضد ا ستخدام شوی وه. همدارنګه دهغو سره برابر ننی طالبان دامريکی دغير قانونی جنګ اودخپل هيواد داشغالګرو په وړاندي جنګيږي .

هغوی يعنی طالبان غواړی چي امريکايي يرغلګرو ددوی له خاوری څخه بيرته ووځی حا ل داچي ترهغه پوری چي د(سی آی اي ) ځانګړي يا خصوصی پوځ دلته شتون ولری دامريکايانو دوتلو احتمال نشته .

د **واټسن دانستیوت** زیاته کړ : چې عا مه خلک په دی شیا نو کم پوهیږی اویا داچي هغوی په بی خبری کي اچول شوی دي نو نومړی انستیوت وایي : چی دا ( افغانی ملیشی ) یوغیر قا نونی مسلح ګروپ دي ( چی دا فغا نستا ن د قوا نینو په نظر کی نیولو سره هیڅ رسمی پا یه نه لری او د دولت په امنیتی د ستګاه کی په رسمی بڼی سره راجستر شوی هم نه دي ) .

**( ا لف) :** مونږ پوهیږو چی د (سی آی اي ) تر چتر او ملا تړ لاندی څواکونو سره ټول یو ډول یونیفورم لری اوپه یو ډول مد رن سلاح سره مجهز اویا سمبا ل شوی دي کوم چي ځنی وختونه د امریکا یی انګلیسی ژبوسړیو سره د د ندی یادوظیفی د سرته رسولو په وخت کی خبری کوی او مرستی غواړی. ا ود پټتا ګون دتروریستی بمباریو څخه ملاتړ کوی کوم چي په پوره بی تفا وتی سره ګڼ ملکی وګړی وژنی .

د بشری حقونو ډ لی او تحقیقا تی یا څیرونکي ژورنا لیستا نو د دوی جنګی جرمونه اود بشری ضد جنا یتونه راڅیړلی اومستند کړي دي اوداسی یی توضیح کړی چی دوی دامنیتی اوسیاسی معافیت او مصوونیت په لرلو سره تر اوسه پوری دهیڅ کوم یوقا نونی اورسمی مقا م او محکمی له خوا په جزا محکوم شوی نه دي نو له همدی کبله نومړی انستیتوت ( WI) دا سی زیا توی :

(**ت**) دافغانستان په پوځ کي د (سی آی ای) ترملا تړ لاندی پروګرامونه اوګن فعا لیتونه له عمومی نظا رت څخه په امن کی دی اوهیڅ یوقانون مرجع ته دغه څواکونه ځواب ورکونکي نه دی .

داسی په نظرراځی چی دافغانستان لوړ پوړی مقامات پوه نه دی یا له هرڅه څخه بی خبر پا تی شوی اویا داچي نه غواړی ځان با خبر کړي اوهغه د اچی څنګه او چیری او په څه ما لی مصرف سره عملیا تونه تر سره کیږي .

د ملګرو ملتونو چارواکی چی د (سی آی ای) ملیشو لخوا دملکی وګړو وژنه په اشتباه یا په غیر قانونی اویا په قصدی ډول سره ترسره کیږي ونتوانیدل چی دهغه راپورونه تر لاسه کړي یا دهغه دقیق ارقام معلوم کړی ځکه چی لا تراوسه نه دی توانیدلی چی له افغانی چارواکو څخه په دی مورد کي معلوما ت تر لاسه کړي .

د (سی آی اي ) شیطا نی ، ډ ک له دښمني ، پټ بی شمیر اوغیر قابل دشمیر غیرقانونی کړنی دهیواد په دننه او بهر کي بی له کوم پوښتنی ترسره کیږي چی دا پخپله د نړیوال سولی ، ثبا ت اود امنیت لپا ره یو ښکاره ضد او مخا لف کړنی دي چي په واقیعت کي نړیوال سوله ،امنیت اوثبا ت یا تیکاو د ګواښ سره مخا مخ کړي دي .

د ا مریکي نا وړه اوکرغیړن لاسونه په کلی بڼی سره د توطیی ، د سیسی جوړولو کي ککړ دي چی دنړی دټولو هیوادونو پروړاندي ترسره کوي اودغه ډول دسیسی دامریکی دمتحده ایالاتو د جنایاتو دکولو په لست کي ثبت اودرج شوی دي کوم چي غواړی هرچیری جګړه وکړی او د رژیمونو د تغیر پلانونه جوړ کړی .

دامریکا یا نو اود طا لبا نو تر مینځ مذاکره چي هر څه پا یلی ولری اویا ونه لری ، خو خبره دادي چي واشنګتن ا فغا نستا ن ته راغلي او غواړی چي د لته پا تي شي ،ځکه چي امریکا یا ن دا فغا نستا ن د دایمی اشغا ل پروګرامونه جوړ کړي دي اوغواړی چي ددی هیواد طبعی لاس نه وروړلی منا بع لوټ کړي کوم چی دغه طبعی مواد او مینرالونه مشتمل دی له [ باریت ، کرومت ، د سکرو ډ بره ، کبا لت ، مس ، طلا ، ګوګړ ، تالک ، داوسپنی ډبره، سرپ ، زیات مقدار نامی قیمتی لتیوم او ځنی نور کمیاب فلزات کوم چي

په اپشرفته تکنالوژی کې ور ځخه کا ر اخیستل کیږي ،همد ارنګه طبعی ګاز ، نفت ، قیمتی اونیمه قیمتی تیګي ، پټاس ، مالګي او ،،،،، دي ] کوم چې ددی موادو ارزش تریلیونونه ډالر اټکل شوی دي او خورا ډیر اقتصادی بها اویا ارزش لری یعنی هعسی خزانی او زیرمی دی چې واشنګټن نه غواړی له دی موادو ځخه لاس پر سر شي اوددی لوټماری په ځنګ کې امریکایان غواړی چې په دی هیواد کې دګاز اودنفت لولی هم وغځوی کوم چې دهغه په پلی کولو او جوړښت سره دامریکایانو پروګرام دادی چې **چین** او **روسیه** ترخپل نظا رت لاندی ونیسی یا کلا بندی کړي نو دهمد ی هد ف لپا ره غواړی چی په دي هیواد کی خپل نظا می اډی لا پسی ټینګ او مستحکم کړي .

د بلی خوا ځخه ا فغا نستا ن د نړی یوله هغه هیوادونو ځخه دي چې د نړی د هیروین ضرورت د تریاکو دکرکیلنی اودهغه اړونه په هیرون با ندی رفع کوی او له همدی کبله دی چې له دغه هیواد ځخه هیروین دنړی ټولو مارکیټونو ته دامریکی ترنظارت لاندی لیږدول کیږی اودا هرچا ته روښانه دی چې د (سی آی اي ) زیا ته بودجه د هیروین له قاچا ق او ترافیک ځخه لاسته راځی او (سی آی اي ) د همدی مخد ره موادو په راکړی ورکړی او قاچا ق با ندی متکی دي یعنی هغه ماده (تریاک) کوم چې طا لبا نو د (۱۱/۹) ځخه دمخه دهغه کرکیلنه او کر هڼه بند کړی وه اما کله چې امریکا یا نو ا فغا نستا ن وروسته دکا ل (2001) ځخه اشغا ل کړ د تریاکو کر هڼه او کرکیلنه بیا له سره پیل شو – با ید په ډاګه شی چې دا دغربی بانکونو لپاره دپول شوي (دتورو پیسو سپینول ) یوه پا داش دي و هرچاته معلوم دی چې دایمی جنګ او جګړه د امریکی دامپریالیزم تلپاتی پا لیسی دی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره سیا سیی جنګونه او شخړی یا داچې نور یی دنیا بټی جنګونو لپاره استخدام کړی خلک دامریکی دګټو دترلاسه کولو لپاره وجنګیږی اوهم دا امریکا دی چي په ډیر خصما نه

*وضیعت اوغیر قا نونی برخورد سره خلک ا و هیوادونه په ا قتصا دی تحریمونو با ندی تهد ید وی.*
*پس هر هغه څه چی متحده ایالات او طا لبا نو سره موافقه وکړی نوهغه موافقه دامریکا یا نو له لږ لید کوم ارزش نه لری یا داچی هغوی ته ارزش نه لری چی ددی ډول موافقی متن د کوم کا غذ په مخه ولیکل شي ځکه چی دامریکی دمذ ا کراتو تا ریخچه کوم چی د ډ یرو زیا تو هیوادونوسره کړی د ا سی ښود لی چی هیڅوک د ا مریکی په قول اوقرار با ندي اعتما د نه کوی .*

--------------------------------------------- **په درنا وی** «2019-08-27»